مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲/۱۱/۱۷

# د کوچنیانو د نه وهلو قانون

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

### یوویشتمه برخه



اوس، اوس په پرمختللو ټولنو کې داسې قوانین رامنځته کېږي چې، د راتلونکي نسل د لا ښې روزنې له پاره، د ماشومانو او کوچنیانو وهل ټکول غیر قانوني ګڼي او عاملینو ته یې د سزا وړاندیز کېږي؛ خو زموږ په هېواد افغانستان کې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی نه یوازې نه درول کېږي. بلکې د پرمختنګ په حال کې دی او نوبښت خو لا په دې کې دی چې نورې ځانګې او نوي ډولونه یې هم غوره کړي دي.

د ټولنې د بېلابېلو قشرنو د بېلابېلو تضادونو او برخوردونو په پایله کې چې هر قشر او یا هر چا ته ضرر رسېږي، د هغه ضرر تاثیرات په نېغه د ماشومانو او کوچنیانو پر ژوند باندې منفي اغېز ښندي او د هغوی ژوند په یو ډول نه یو ډول متاثره کوي.

له ماشوماتو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي سونامي د مقالو په بېلابېلو برخو کې ما د مثالونو په راوړلو سره دا ښولې ده چې څنګه له کورني ژوند نه نیولې بیا تر کوڅې، کلي، ښار، بازار وړکتون (که وي)، او ښوونځي پورې له ماشومانو سره تاوتریخوالی روان دی. د دې تاوتریخوالي د مخنیوي له پاره اول قوانین نه شته، که وي هم نه څوک پسې ګرځي او نه یې مراعاتوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



دا هم د نوي نسل د روزلو ابتدا

د میډیا د راپوروونو له مخې د افغانستان پارلمان د ښځو او ماشوانو نه زوروولو قانون تصویب کړ، خو دا قانون دوه سلنه هم څوک په پام کې ساتي او که جدي څېړنه وشي، ښايي چې قانون جوړونکي هم دا قانون مراعات نه کړی.

خو په نوره نړۍ کې لیدل کېږي چې هم قوانین شته، هم په جدي ډول تطبیقېږي او قانون جوړونکي ستونزو او اړتیاوو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو د لا خوندیتوب، ښې پالنې او روزنې په پار نور قوانین هم جوړوي او له جوړېدو سره سم یې داسې تطبیقوي چې هېڅوک سرغړونه ورنه نه شي کولای.

په دې نږدې ورځو کې په سکاټلند هېواد کې ماشوم ته د یوې نرمې برسېرنې څپېړې ورکول هم منع کړای شول. بي بي سي د دوه زره شلم کال (۲۰۲۰ام) د نومبر پر اتمه (۸ مه) د «ماشوم ته څپېړه ورکول سکاټلنډ کې هم غیرقانوني شو» ترسرلیک لاندې یو راپور خپور کړ، د دې راپور په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

« په سکاټلنډ کې هغه بندیز اوس په قانون بدل شو چې له مخې یې اجازه نه وه ماشومان په چکه ووهل شي یعنې (برسېرنه څپېړه) ورکړل شي. له دې سره سکاټلنډ په برتانیا کې لومړنی ځای دی چې تر ۱۶ کلنۍ کم عمره ماشوم ته فزیکي سزا ورکولو باندې بندیز لګوي.

تر دې وړاندې میندو پلرونو او پالونکو اجازه درلوده په هغه صورت کې ماشوم ته چکه یا سپکه شانې څپېړه ورکړي چې د ښې تربیې په پار یې وغواړي اصلاح کړي. د نوي قانون په رڼا کې نور داسې نه شي کولی.

دا قانون ماشومانو ته هم د مشرانو په شان خوندیتوب ورکوي.

سویډن په نړۍ کې لومړنی هېواد و چې ماشوم ته څپېړه ورکول یې په ۱۹۷۹ کال کې بند کړل او اوس سکاټلنډ ۵۸م هېواد دی.

خو په اېنګلنډ کې د دې کار ترسره کولو لپاره کوم پلان نشته.
د ماشومانو ساتونکو ادارو د سکاټلنډ دا ګام ستایلی دی او وایي دا یو اړین ګام دی او هسې هم باید له ماشومانو سره د بد چلند مخه ونیول شي...

تر دې وړاندې چې به محکمو قضاوت کاوه چې آیا تر ۱۶ کلونو کښته ماشوم ته ورکړل شوې سزا توجیح کېدای شي که نه، نو دا یې په پام کې نیول چې وهلو څومره دوام کړی او آیا څوڅو ځلې ماشوم وهل شوی که یو ځل، د ماشوم عمر په پام کې نیول کېده او دا چې وهلو وربانديې څه فزیکي او رواني اغېز کړی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې ټولو له په پام کې نیولو سره اجازه وه چې میندې پلرونه خپلو اولادونو ته پر بدن سپکه شاني څپېړه ورکړي، خو سر ته وهل، په زوره جډکه ورکول، او د کومې وسیلې کارول غیرقانوني و.

په ښوونځیو او روزنیزو مرکزونو کې بیا هر ډول فزیکي سزا ورکول منع ول او چا ته اجازه نه وه چې پر ماشوم لاس پورته کړي.»

وګورئ، د نړۍ خلک له ماشومانو او کوچنیانو سره څه کوي او موږ څه کوو؟ موږ خپل ماشومان او کوچنیان په داسې حالت کې رااېسار کړي دي او فشارونه مو پرې راوستي دي چې نور یې د زغملو توان د هغوی نازک بدنونه نه لري او مجبوراً بلې لارې ته مخه کړي چې تر ټولو ساده او اسانه لار یې نشیي توکو ته مخه کول دي او دا کار لا وختي ترسره شوی هم دی.

یو ځل بي بي سي داسې خبر خپور کړ چې د افغانستان تر یو میلیونه ډېر ماشومان په نشو روږدي دي:

«افغانستان کې تر یو میلیون ډېر ماشومان نشه کوي او پرې روږدي دي. دا خبره کابل کې له نشه یي توکو سره د مبارزې ادارې کړې. دوی وايي ټول افغانستان کې ټول ټال درې میلیونه خلک په نشو اخته دي.

نجما ځلا کابل کې د روږدو کسانو تر ټولو لوی مرکز فینکس ته تللې. هلته له ماشومانو سره غږېدلې او د روږدي کېدو لاملونه یې ترې پوښتلي»

د بي بي سي والا مسؤلیت یوازې د خبر خپرول دي او بس، نور نو د «غم ده د لالي په سر، مسته دې تازه ګرځي» کیسه ده، خواره خواري د افغانانو او د افغانستان ده چې درې نیم میلیونه خوځېدونکي مړي ور له غاړې دي.

دا یو میلیون روږدي ماشومان، کوچنیان او تنکي ځوانان، اته نیم لکه روږدې میندې او په ټول کې درې نیم میلیونه روږدي افغانان؛ د هغه نا سم شعار او نا سمې پالیسۍ پایله ده چې ویل کېدل به:

**«وې زېږوئ، وزن یې مځکه جګوي، روزي یې خدای ور رسوي.»**



د واړه او لوی په منځ کې د ملامت او سلامت په نښه کول تاسو وکړئ!

خو د پاسني شعار سر لارو او پیروانو د دې په باب فکر نه کاوه چې:

ــ د دغه نوي نسل ــ چې مځکه یې وزن جګوي او روزي یې خدای ور رسوي ــ د سواد او ښوونې روزنې مسأله څنګه کېږي؟

ــ د ورکتون، ښوونځي او پوهنځي غم یې څوک خوري؟

ــ د کار زمینې او شرایط څوک ور ته برابروي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راللیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله، کله داسي هم شوي دي چي موږ له بهرنیانو نه سر ټکوو چي په خپلو هیوادونو کي یي زموږ له ماشومانو سره جفا کړي او کوي یي، ورغلي کم سنه افغان کوچنیان بیرته را شړي، خو دې ته مو پام نه وي او پام مو نه دی چي کور دننه او په هیواد کي دننه او په خپله ټولنه کي له خپلو ګلالیو ماشومانو سره، له خپل نوي نسل سره او له خپلي راتلونکي سره، موږ خپله څه کوو؟

وهل، ټکول، شاقه کارونه، جنسي تیری، تښتول، خرڅول، جګړې ته لېږل او نور څه فعلونه دي چي نه مو دي ور سره کړي او دا دی اوس مو لا په نشو هم روږدي کړل، هغه هم دوه، درې، لس، شل او سل نه، بلکي یو میلیون.

اوس که د دې په نشو روږدو ماشومانو د نشو لټه وشي، ریښې یي بېرته ورګرځي د لویانو کړو وړو او له ماشومانو او کوچنیانو سره د هغوی چار چلن ته. یعني په هیڅ کار کي موږ ښه نه یو. نور خلک او نوره نړۍ د ماشومانو او کوچنیانو د ژوند د خوندیتوب او لا ښه کېدو له پاره داسي نوي قوانین طرحه او تطبیقوي او موږ دغسي حال لرو لکه پاس یي چي څو بېلګي وړاندې شوې.



«دغـــه سودا کرم بله لار مي نشته
زه د کور مشره یمه پلار مي نشته»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ